# په افغانستان کی د ټاکنو وروستی معلومات

د زیاتو معلوماتو د پاره:

آندی ایم ای
میشت ریس
+93 (0)79 813 7023
acampbell@ndi.org

**24 Sept 2010: له لومړی ورځی تر ټاکنو د ورځی** | **18 Sept 2010 ,دا فغانستان دولسی جرګی ټاکنې**

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرګی د ټاکنو له بهیر څخه د څیرنی او نظارت په موخه د څیرنی او نظارت ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیرونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح ګمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شی: AfghanistanElectionData.org. و NDI.org

## افغانستان د ټاکنو پر لور

### د هیواد د ګوټ ګوټ څخه دټاکنی په اړه د ملی دموکراتیک انستیتوت د ناظرینو بیړنی معلومات











*د ټاکنو یوه کارکوونکی د ښځو په مرکزکښی د رای پاڼی د کتولوپه حالت کی*



*په ځاځی میدان ولسوالی پکتیا کښی رای ورکونکی په ازاده فضا کی رای ورکوی*

### د ټاکنو په ورځ او دوام کښی افغان ملی پوځ او ملی پولیس د امنیت د پیښو ځواب ورکوونکی وو

دوزارت دفاع له خولی افغان ملی پولیسو د هغو ۵۰۰امنیتی پیښنو مسولیت یی پر غاړه اخیستی کوم چی د ټاکنو څخه ۲۴ ساعته وړاندی او وروسته واقع شوی دی. او ملی اردو د۴ داسی پیښود سمون مسولیت درلود.لکه څرنګه چی ځایی ملی ځواکونو ددی چارو د سمون واک درلود نو د نړیوالو امنیتی ځواکونو د مرستی ضرروررت پیښ نه شو. دا چی ملی پولیسو د خپلو تعهداتو سره سم د کمو مرستو باوجود خپلی دندی سرته رسولی دوه لاملونه ددی وضعه ښه بیانولی شی: د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو پر پرتله سږکال بریدونه کم او هومره نغښتی نه وو، او له بله اړخه افغان ملی ځواکونه لکه ملی اردو، ملی پولیس او ملی امنیت ددی وړ وو چی ددی ټولو منابعوڅخه پرځای ګټه واخلی. د ۲۰۱۰ کال په ورستویو کی د ملی پوځ او آیساف په ګډه همکاریَ د ټاکنو د مراکزو د ممکنه خطراتو د ټاکنو په اړوند یو پروګرام عملی شو چی پدی ترڅ کی د خطر ځایونه په لوړ، منځنی او ټیټ ډولونو وویشل شو. ددغی روزنی په مرستی امنیتی ځواکونه پدی وتوانیدل چی خپل ځواک او شته پر هغه ځای ولګوی کوم چی ډیر ضرور ګڼل کیده.

د تیرو ټاکنوپه څیر امنیتی ځواکونه دټاکنودمراکزوترشا اوخوا په ګډ ه سره د یوی دفاعی دایری په شکل تنظیم شوی دی. د ټول هیواد په کچه ۵۲۰۰ پولیس افسران د ۵۸۱۶ د ټاکنود مرکزونو څنګ ګمارل شوی ، په دوهمه امنیتی دایره کی ۶۳۰۰ د ملی پوځ ځواکونه ګمارل شوی ، او ایساف د دریمی دفاعی دایری په حیِث ځان چمتو کړای دی، چی پدی کی بیړنی مدافعه قواوی هم شامیلی وی ترڅو د افغان ملی ځواکونو غوښتونوسره سم ،د ټاکنو وروسته تیریو او ناارامیو ته په سم وخت کی ځواب ووایی،په همدی اړوند امنیتی ځواکونه به د سپمبر تر ۲۸ نیټي د لوړ خطرسیمولرونکو په شا او خوا کی موقیعت ولری .

.

## د ټاکنو خپلواک کمیسون ۳۰۰۰ شکایتونه تر لاسه کړی، د شکایاتو کمیسون د ولسی جرګی لمړنی پایلې خپری کړی

د سپتنمبر په ۲۳ نیټی د شکایاتو کمیسون اعلام وکړچی تر ۳۰۰۰ زیات شکایات یی د بی نظمی په اړوند تر لاسه کړی، چی ددی شکایاتیو اکثریت یی د شکایاتو ولایتی دفترونو ته ورکړل شوی دی. د ټاکنو کمیسون ۸۶ شکایتونه تر لاسه کړی چی ټول یی بیرته لیږدولی مګر یو یی د لازیاتو څیړنو د پاره ولایتی دفتر ته استولی دی. د شکایاتو ولایتی دفترونو ۱۲۶ شکایت ترلاسه کړی چی دغه شمیر په څو ورځو کی په نا ځاپی ډول رازیات شو.

اوس محال د شکایاتو ولایتی کمیسونونو د ټاکنو اوترتیب پروسه په دری کټګوریو ویشلی ده: په اوله کټګوری کی هغه شکایات شامل دی چی قانونی بڼه ولری او شمیر یی د ټاکنو په نتایجو کوم اثرو لری، دوهمه کټګوری هغه شکایات دی چی د پام وړ دی خو په نتایجوکوم اثر نه لری، دریم

ډول هغه شکایات دی چی غیر بنیادی او بی ربطه دی چی د نوور څیړونو ضرورت به ورته پیښ نه شی. د سپتمبر په ۲۲ نیټه د شکایاتو ولایتی کمیسون ۱۷۶۷ شکایات کټګوری کړی دی چی ۱۰۳۲ یی به اوله کټګوری کی راغلی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسون وایی چی د انترنیت د ستونزی د امله د کندهار، نورستان،پکتیا او زابل څخه یی د مربوطه کمیسونو نه شکایات ندی تر لاسه کړی.

داسی ویل کیږی چی د شکایتو ملی کمیسون دی ته اړندی ترڅو د ولایتی شکایتونو فیصلوته بیا کتنه وکړی او دا یی وعده کړی چی د شکایاتو د حل سره سم به په عامه توګه د ولایتی دفاترو په دیوالونو خپلې پریکړې وځړوي، او همدا رنګه دټاکنوخپلواک کمیسون د سپمبر په ۲۳ په لمړی ځل د د ټاکنو جزی نتایج اعلان کړل، د مشخصو ارقامو پر ځای کمیسون د ګرافونوخپرولو ته ترجیح ورکړله چی د پنجشیر ولایت اټکلی نتایج یی ښودل، تر ټولو د مخه نوماندونومونه په ترتیب سره په لاندی ډول دی: ۱-ذاکر زهیر سادت تقریبا ۳۶۰۰ رای ۲-محمد واصل تقریبا ۲۲۰۰ رای ۳- استاد عزیز احمد حنیف ۱۴۰۰ رای ، او پدی ولایت کی یواځی دوه ښځینه نوماندی دی چی په پارلمان کی ورته یو سیت سپم شوی دی خپلی سیالی ته لاندی ډول دوام ورکوی: - قاضی راحله سلیم د ۳۴۰۰ رای په درلودو سره اول، او بیا فاطمه یاثر د ۲۵۰ په دویم درجه کی ده.

د ټاکنوخپلواک کمیسون وایی چی تر اوسه دوی د ۱۹ ولایاتو د کاندیدانو څخه ددوی د مصاروفو او ورسره شویو مرستو په اړوند راپورونه اخیستی دی، د ټاکنو د خپلواک کمیسون د مالی مصارفو دقانون مطابق کاندیدان باید ۴۸ ساعته مخکښی د رای اچوونی خپل مالی راپورونه د شکایاتو ولایتی دفترونو ته وړاندی کړی.

د ۱۹ ولایاتو د مصارفو په اړوند کمیسون خپلی څرګندونی داسی کوی: ۶ کاندیدانو خپلی شتمنی نه دی څرکندی کړی، ۲۲ و یی فورمی ندی تسلیم کړی ، او ۲ نورو یی د مصارفو ټاکل شوی میعاد څخه سر غړونه کړی، د ټاکنو کمیسون پاسنی موضوعات د لا زیاتو څیړونو د پاره د شکایاتو کمیسون ته معرفی کړی دی.



*په کابل کښی رای ورکوونکی د رای د مرکز تر مخه انتظار باسی*

## سره د نا امنیو ، افغانانو د خپلو ژمنو سره سم د دیموکراسۍ د پلې کولو ښکارندوینه وکړه

د سپتمبر په ۲۰ نیټه د ان،دی،ای د څیرنو او نظارت ماموریت په افغانستان کی د ۲۰۱۰ کال د ولسی جرګی د ټاکنو په هکله خپل لومړنی معلومات خپاره کړل.

دی معلوماتو په ډاګه کړه چی سره له دی چی د هیواد په بیلابیلو برخو کی د ټاکنو پروسه د تاوتریخوالی سره مخامخ وه خو بیا هم په میلیونوو افغانانو د سپتمبر په ۱۸ نیټه در رای په ورکولو سره په ټاکنو کی ونډه واخیسته او په ډاګه یی کړه چی دوی کولای شی په ډیر جرعت سره خپل ملت د یو دیموکراتیکی راتلونکی په لوری یوسی.

د افغانستان د ۲۰۱۰ کال ټاکنو وښوده چی په میلیونونو افغانانو - د نوماندانو، د دوی د استازو، رای ورکونکو، کورنیو نظارت کوونکو، او د رای د مرکزونو مسولینو په شمول دی ته هوډمن دی چی د دوی حکومت د وګړو د غوښتنو ښکارندوی دی – انستیتیوت وویل.

ان،ډی، ای د ستونزو شتون هم په ډاګه کړ، ځینی ستونزی چی د ۲۰۰۴ کال په ټاکنو کی تر سترګو شوی وی تر اوسه یی په هکله اقدامات نه دی شوی. په دی لړ کی د رای ورکوونکو د نوم لیکلو ناقصه پروسه، په ټاکنو کی د ښځو د برخی اخیستلو په وړاندی ستونزی، او د افغانستان د دوو خپلواکو ادارو یعنی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون در خپلواک ساتل.



*د رای شمیرنی مرکزانتظار باسی تر څو د نتایجو فورمی د ولایتو څخه تر لاسه او بیایی په تنظیمولو پیل وکړی.د لومړنی معلوماتوخوندی کول د سپتمبرپه ۲۰ پیل شول او لمړنی پایلی یی په ۲۳ خپری شوی،وروستی پایلی به یی په ۲۶ خپری شی. کمیسون اعلان کړی چی د معلوماتو خوندی کول به د اکتوبر تر ۲۰ نیټی دوام وکړی.*

**ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمینارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.**

د څیرنو او نظارت ماموریت له ۱۶۴ افغانو او نړیوالو نظارت کوونکو څخه جوړ شوی او د ۳۴ ولایاتو څخه په ۳۰ ولایاتو کی په فعالیت بوخت دی او د ټاکنو په ورځ یی له ۷۰۰ څخه زیاتو د رایو مرکزونو څخه لیدنه کړی ده سره له دی چی د امنیت ستونزو سره مخامخ وو. د ان،ډی، ای مکمل راپور کولای شی په دی ویب پاڼه کی وګوری:

http://www.ndi.org/files/NDI_Afghan_2010_EOM_preliminary_statement.pdf

http://www.ndi.org/files/NDI_Afghan_2010_EOM_preliminary_statement.pdf.